# په افغانستان کی د ایران اود پاکستان لاس وهنه د سپینی مانی د حا کما نو په لاربښونه سره تر سره کیږی

اوس هرڅوک چی د سیا ست په( الف) او په( ب ) باندی ډیر کم هم پوه وی په دی ښه پوهیږی چی ددی نړی په هر ګوټ اوهره برخه کی دامریکی متحده ایالات اودهغه جا سوسی اداره ( سی- ای- ای ) دهغو دولتونو اورژیمونو تر شا ولاړوی اویا له هغو څخه خپل ملاتړ په ښکاره اویا په پټه بڼه تر سره کوی کوم چی هغو دولتونو له خپلو خلکو څخه بیل ، په فساد ، بډی اخیستو ککړ د آزادی ، د موکراسی ، ټولنیزعدالت ، اود قانونی منل شوی نورمونو پرضد ، په هغه کی لوړ پوړی چارواکی ، په ډ لیالنه ، زبپالنه ، سمت پالنه ، توکم پالنه ، نژاد پالنه ، د ملی وحدت پر ضد ،دخلکو په مینځ کی نفاق واچوه او حکومت وکړه باندی خپل تسلط جاری ساتی ساتنه کوی، ددی یا د ونی ښکاره بیلګه زمونږ په ګران هیواد افغانستان کی د ملایانو دولت اوررژیم دی چی د امریکی د مټ په زور پرافغان اولس باندی میچنی ګرځوی ،یعنی هغه ډ لی او ټپلی چی د افغانستان د قانونی دولت اود هغه په سرکی د مرحوم سردار محمد داود دملی او افغانی هیلو د شنډولو پرضد د نعره تکبیر (الله اکبر) په ویلو اود جهاد بیرق په لوړولوسره دافغانستان د تاریخی د ښمن دولت

یعنی پاکستان ته پناه ویوړل اود پاکستان د جهنمی جاسوسی اداره ( آی – اس- آی ) له ماهرانوڅخه دخپل وطن د بر بادی درسونه زده کړل او په ډیر بی عزتی ، سپکاوی ، بی شرمی او پوره دنایت سره چی دافغانی له فرهنګه بیګانه ښکاری د پاکستانی لوړ پوړو چارواکو ددروازو تر شا خدمت ته چمتو شو اوڅه یی چی دلاسه کیده صرفه یی ونکړ ، دغه ناپوه ضد افغانی ډلی ټپلی چی اوس د کابل درژیم په لوړو چوکیو کی ډډه لګولی دی ،حتی دافغانی منل شوی دودونو اورواجونوڅخه دپردیو د ګټو دتامینولو دپاره د مرحوم دوکتورنجیب الله وړاندی کړل شوی ملی پخلاینی پالیسی او غوښتنه یی هم ونه منل ، اوڅه چی پاکستانی حاکما نو ورته دیکته کول همغه اوامر تر سره کول ، لکه چی مونږ اوتاسی دهغو د جلسی ویدوی آنځور په رڼو سترګو ولیدل چی د نواز شریف په کورکی سره ناست اود هغه پنجابی افغان د ښمن خبری منل اودخپل پلارنی وطن دبربادی دپاره سره پروتوکولونه لاس لیک کړچی هیڅکله به دتاریخ له حافظی څخه به هیره نشی ، همدغه حاکم ډلی ټپلی دی چی د کابل ښکلی ښار یی پخپل مینځی جګړوکی په کنډوالوبدل کړاودبی شخصیت پنجابی جنرال حمید ګل هغه خبری چی کابل ته اور واچوی چی وسوزی تر سره کړ، او لا تر اوسه په افغانستان کی د همغه پنجابی واکدارانودمرامونودسرته رسیدودپاره کاراوفعالیت کوی ، هوکی هغسی یودولت اورژیم چی افغانان ته پردی دولت ښکاری لکه چی افغانی اولس خپل کرکه د جمهوری ریاست اود وکیلانو په ټاکنو کی دخپل نه ګډون سره وښودل ، مګر بیاهم همدغه د سپینی ماڼی واکداران دی چی په افغانستان کی له داسی یو رژیم

ثخه ملاتړ کوی چی دافغان دملی وحد ت پر ضد حکومت کوی ، اویا داچی همدغه متحده ایالات اودهغه سردمداران دی چی په ډیره بی شرمی سره د آزادی ، د موکراسی ، او د بشر د حقونو چیغی وهی او په افغانستان کی یوه بی سواد ، بی فرهنګ ، قاچاقبر ، ناپوه اوله هر ډول انسا نی نورمونو څخه بیګا نه دولت سره مرستی کوی اود هغه تر شا ولاړ اوله هغو ثخه ساتنه کوی .همدغه دامریکی اودسپینی ماڼی سترا تیژیستان دی چی که چیری تیرو پیښو ته ځیر شوخمینی یی د رضا شاه پرځای کیښناوه اود ایران دوګړنی پاڅون لاسته راوړنی یی شنډ اویا دهغه مخه ونیول ، یا داچی دمصردخلکو دپاڅون د ناکامولو د پاره عربی ژبی اسرایلی اوبا ش او ډلو ته د پیسو په ورکولو سره دآسونو اود اوښانو پرشا سپور ورداخل کړ چی دغه پاڅون ګډ وډ کړی اویا داچی عمر سلیمان یی یعنی خپل زوړ آشنا ته کمپاین وکړچی قدرت هغه ته په مسالمت آمیزښه انتقال ومومی ، یعنی دحسنی مبارک درژیم د ساتلو د پاره کوم چی داسرایل اود امریکی حلقه بګوش رژیم دی دخپل اهدافو د لاسته راوړلو په نیت ښه ستړی کیدونکی هلی ځلی په همدغه ورځو کی تر سره کړ او خپل جا سوسی اداره ته ګواښ وکړ چی ولی ددی غټ بودجی په لرلو سره مو ونشو کړای چی په تونس او په مصر کی د حالاتو وړاند وینی وکړی : نو دهمدی دلایلو په نظر کی نیولو سره په رغنده بڼه ویلی شو چی د پنتاګون لوړ پوړی چارواکی تل دخلکو څخه بیل دولتونو سره ملګرتیا لری اودهغو ملا تړ کوی .

دیادونی بل وړ مطلب دادی چی همدغه دامریکی دولت دی

چی پاکستان ته حاتم طایی مابانه کمکونه خصوصاْ د هغه داردو د لاغښتلی کیدو د پاره هر کال په میلینونو دالر مرسته کوی ، همدغه دامریکا دولت دی چی طالبان راوځیږوو ، دبن لادن ترشا ودرید اوهغه ته په افغانستان کی د روسی د قوتونو پر ضد بی ساری پیسی اوکمکونه تر سره کړ چی ټولو ته معلوم دی .
محترمو لوستونکو!
د پورتنی ذکر شوی مطا لبو په رڼا کی اوس دی پا یلی ته رسیږو چی د پاکستان ، ایران اود افغانستان رژیمونو ، څه ډول رژیمونه دی ؟ ددی سوال ځواب ډیر آسان دی ، یعنی هغه رژیمونه دی چی د آزادی ، عدالت ، د موکراسی او د بشر د حقونونشتوالی اونه مراعات کول په فساد ،بډی اخیستلو ،تر زنی پوری غرق ،دقانون نه مراعات کول اود قرون وسطایی فرهنګ په لرلوسره پرخلکوحکومت کوی اودامریکی دمتحده ایالاتودولت دخپل ګټی دتامینولو د پاره دهغو تر شا په پټه او یا په ښکاره ښه سره ولاړ دی چی ددی ادعا ډیری دلایل په لاس کی شته لاکن ددی لیکنی له حوصیلی څخه وتلی ښکاری چی هغه دلیلونه په تفصیل سره دلته په ذکر ورسوو .
محترمو اوګرانو لوستونکو : ما دغه مقالی ته( په افغانستان کی دایران ، او پاکستان لاس وهنه د سپینی ما نی د حاکمانو په لار ښونو سره تر سره کیږی ) عنوان ورکړ او بی ځایه نه ښکاری چی دلته یو بل مهم اود ورځی ګرم مطلب په ذکر ونه رسو ، او هغه داچی د امریکی متحده ایالات غواړی چی په افغانستان کی خپل نظامی دایمی اډی جوړ کړی لکه چی د افغانستان تپل شوی جمهور ریس دهغو دغه غوښتنه په ډاګه کړ

اوویل چی دا دافغانستان د پارلمان وکیلانو پوری اړه نیسی چی هغوی څه پریکړی کوی ، ددی نه دا معلومیږی چی امریکی ته دنظامی اډی دجوړلو شرایط مساعد ښکاری اودبلی خوا څخه که چیری ایران او پاکستان د امریکی د نظامی اډی سره په مخالفت کی وی نو ولی د افغانستان په ننه کی لاس وهی اودامریکی د پاره پلمی جوړوی چی که چیری مونږ له افغانستان څخه پښیی سپکی کړو نو طالبا نو او اخوندانو به پر افغانستان باندی به خپل لاس وهنو ته نورهم شدت ورکړی . هوکی داخبره پوره روښانه دی چی پاکستان او ایران دامریکی د نظامی اډی په جوړیدو سره موافقه لری اوکه چیری نه درلود نو ولی ایرانیانو له یوی خوا د ښه ګاونډیتوب ادعا کوی اود بلی خوا په سخته ژمی کی لاری بندوی او د تیلو ټانکرونه نه پریږدی چی افغانستان ته مواصلت وکړی یا داچی پاکستا ن تل د افغانستان مالتجاره اودهغه په انتقالاتو باندی بندیزونه لګوی ، نو په دی بنیاد دامریکی د پاره ډیر ځانګړی مساعد شرایط برابرشوی چی دخپل نظامی اډی دجوړولو موضوع دافغانستان رژیم ته وړاندی کړی ، اوپردغه قلابی پارلمان چی د پیسو د پاره د اوږدو بوجیو سره پارلمان ته راغلی لکه همغسی چی مجاهدینو په لمړی سرکی له امریکی څخه په میلونو ډالر تر لاسه کړ اودامریکی بحری او هوایی قوتونو ته اجازه ورکړ چی دافغنستان پر بیګناه خلکو بمونه وغورځوی ، اوس هم په ډیر آ سانی سره دپیسو اود بډی په ورکولو سره کولای شی چی د دی افغانی نما وکیلانو موافقی تر لاسه کړی او خپل نظامی اډی جوړ اود افغانستان او د منطقی انرژی اوشتمنی تر لاسه کړی .

ځما مخاطب ټول تاسی د افغان ریښتیانی بچیان یاستی او هغه دا چی که سره یو نشی او دافغانستان دد ښمنانو هیلی شنډ ی نکړی اودا لاس پوځی دولت چی د پردیو دمنافع اود ګټو استاذی دی له بیځه نسکور نکړی ،نه به افغانستا ن پا تی شی اونه به بیا شمله نیغه کړی او تاریخ ته به څه ځواب ووایی ، ځان سره فکر وکړی وخت تیریږی ،سره یو موټی شی اوله دی کشا لی څخه ځان وژغوری .

په ډیری سلامونو